**د افغـــــانستان اســـــلامي امـــارت**

**د ارشـــــاد، حج او اوقـــافو وزارت**

**د مساجدو د ارشاد او انسجام ریاست**

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**لیکلی تقریر او بیان چې د هیواد دمرکز او ولایاتو**

**ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي.**

---

**٨/ شوال المکرم/١۴۴۴ هـ، ق موافق د ٨/ ثور /١۴٠٢هـ، ش**

# اسلام د اخوت، نصیحت او تحمل دین دی

الحمد لله الذي أوجب النصح على عباده المؤمنين ، ورتَّب الثواب الجزيل للناصحين المصلحين ، والصلاة والسلام على سيدنا محمد سيد المرسلين ، وعلى آله وصحبه أجمعين ، أما بعد :

**اسلام د اخوت دین دی:**

اسلامي اخوت د اسلام د اساسي او بنسټیزو شعائرو او خصوصیتونو څخه دی چې ددې مهم اسلامي اصل له مخې د هر نژاد مسلمانان ، د هرې قبیلې مسلمانان او د هرې ژبې او د هر عمر درلودونکي مسلمانان ټول سره په خپل منځ کې یو د بل ورونه دي او د ژورې ورورګلوۍ احساس کوي؛ ولو که هر څومره یو له بل څخه لرې وي چې یو په شرق کې ژوند کوي او بل په غرب کې :{إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ} الحجرات: (١٠)

ترجمه:- بیشکه مؤمنان سره ورونه دي؛ پس صلحه وکړئ د خپلو ورونو ترمنځ او و ویریږئ له الله تعالی څخه ددې لپاره چې پر تاسې رحم وشي.

په نبوي بې شمیره آحادیثو کې د ایماني اخوت په اهمیت او ضرورت باندې ټینګار شوی دی. په حدیث شریف کې راځي:(إِنَّ الْمُؤْمِنَ لِلْمُؤْمِنِ كَالْبُنْيَانِ يَشُدُّ بَعْضُهُ بَعْضًا) صحیح البخاري

ترجمه:- بیشکه یو مؤمن د بل مؤمن لپاره په شان د یو عمارت دی چې مضبوطوي یو بل لره.

په یو بل حدیث شریف کې راځي: (الْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ، لاَ يَظْلِمُهُ، وَلاَ يُسْلِمُهُ، وَمَنْ كَانَ فِي حَاجَةِ أَخِيهِ، كَانَ الله فِي حَاجَتِهِ، وَمَنْ فَرَّجَ عَنْ مُسْلِمٍ كُرْبَةً، فَرَّجَ الله عَنْهُ كُرْبَةً مِنْ كُرُبَاتِ يَوْمِ القِيَامَةِ، وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا، سَتَرَهُ الله يَوْمَ القِيَامَةِ). متفق علیه

ترجمه:- مسلمان دمسلمان ورور دی، ظلم به ورباندې نه کوي او دښمن ته به یي نه سپاري او څوک چې وو په حاجت دخپل ورور کې، الله تعالی به دده په حاجت کې وي(یعنی حاجت به یې پوره کوي) او چاچې لرې کړه د یو مسلمان څخه یوه سختي، لرې به کړي الله تعالی دده څخه سختي دآخرت له سختیو څخه او چاچې په یو مسلمان پرده واچوله پرده به واچوي الله تعالی په ده باندې په ورځ دآخرت کې.

په یو بل حدیث شریف کې راځي:(تَرَى الْمُؤْمِنِينَ فِي تَرَاحُمِهِمْ، وَتَوادِّهِمْ، وَتَعَاطُفِهِمْ، كَمَثَلِ الْجَسَدِ. إِذَا اشْتَكَى عضْوًا، تَدَاعَى لَهُ سَائِرُ جَسَدِهِ بِالسَّهَرِ والحُمَّى).متفق علیه

ترجمه:- وینې به ته مؤمنان په خپلمنځي ترحم کې، په خپل منځي محبت کې ، په خپلمنځي مهربانۍ کې په شان د یو جسم کله چې شکایت وکړي یوه عضوه ( له مرض څخه )ملګرتیا کوي ورسره ټول جسم په بې خوبۍ او درد کې.

د اسلام مقدس دین هر هغه عمل په کلکو ټکو غندي او حرام یې بولي چې اسلامي اخوت خدشه دار کوي او د مسلمانانو اخوت کمزوی کوي. د همدې امله اسلام هر ډول تعصب حرام ګڼي؛ لکه قومي تعصب، لساني تعصب، سمتي او نژادي تعصب...؛ ځکه چې تعصب د مسلمانانو ترمنځ تفرقه رامنځ کوي او اسلامي اخوت کمزوری کوي او د مسلمانانو یووالی او اتحاد له منځه وړي.

په حدیث شریف کې راځي:(مَن قُتِلَ تحت راية عِمِّيَّة يَدْعُو عَصَبيَّة،أو ينصر عَصَبيَّة،فَقِتْلة جَاهِلِيَة). أخرجه مسلم .

څوک چې ووژل شو د جاهلیت دبیرغ لاندې چې عصبیت ته دعوت کوي اویا مرسته کوي د عصبیت؛نومرګ دده مرګ دجاهلیت دی.

قرآن کریم مسلمانان د اختلاف او تفرقې څخه منع کړې دي:{وَلاتَكُونُوا كَالَّذِينَ تَفَرَّقُوا وَاخْتَلَفُوا مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْبَيِّنَاتُ وَأُولَئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ} آل عمران: (۱۰۵)

ترجمه:- او مه کیږئ په شان د هغو خلکو چې بې اتفاقه شول او په خپلو منځو کې یې اختلاف وکړ پس له هغې ورته راغلل ښکاره دلائل او دا کسان شته ددوی لپاره لوی عذاب.

دا ځکه چې هرکله د یوې جامعې د یووالي ارکان د تفرقې په تیغ باندې غوڅ شي، د هغې جامعې ځمکه د تل لپاره د پردیو، بیګانه وو او د استعمار ګرو قلمرو ګرځي، د هغې ټولنې هیبت او عظمت له منځه ځي.

## د اسلامي اخوت تقاضا:

اسلامي اخوت زیاتې تقاضاوې او غوښتنې لري چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

**۱-** د مسلمانانو ترمنځ تعاون او دوستي او مرسته؛ د اسلامي اخوت له غوښتنو څخه یوه داده چې یو مسلمان به د بل مسلمان سره تعاون کوي او ورسره به دوستي او د هغه مرسته به کوي.الله جل جلاله فرمایلي دي:(وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاء بَعْضٍ}التوبة: ۷۲

ترجمه:- بیشکه مؤمنان سړي او مؤمنانې ښځې بعضې ددوی دوستان دي د بعضو نورو .

**۲-** ټول مسلمانان لکه د یو جسم او یو روح حیثیت لري باید چې یو دبل په درد دردمند شي؛ رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:(مَثَلُ الْمُؤْمِنينَ في تَوَادِّهِمْ وتَرَاحُمِهمْ وَتَعَاطُفِهِمْ،مَثَلُ الجَسَدِ إِذَا اشْتَکَی مِنْهُ عُضْوٌ تَدَاعَی لَهُ سَائِرُ الجَسَدِ بِالسَّهَرِ والحُمَّی )متفق علیه

ترجمه:- مثال د مؤمنانو په خپل منځي محبت، ترحم او مهربانۍ کې په شان د یو جسم دی کله چې شکایت وکړي یوه عضوه (مرض او تکلیف څخه) ملګرتیا کوي ورسره ټول جسم په بې خوبۍ او درد کې.

**۳-** خیرخواهي او د خیر فکر؛ دا د اسلامي اخوت تقاضا ده او داسلامي اخوت حق دی چې یو مسلمان د بل مسلمان لپاره خیرخواه اوسي او د هغه لپاره بایدهغه څه خوښ کړي چې د خپل ځان لپاره یې خوښوي.
په حدیث شریف کې راځي:(عن أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صلی الله علیه وسلم قَالَ:لا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتّی يُحِبَّ لأخيهِ ما يُحِبُّ لِنَفْسِهِ).صحيح البخاري

**ترجمه:- دحضرت انس رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: هیڅ یو کس له ستاسې څخه کامل مؤمن کیدای نشي؛ ترڅو پورې چې خوښ کړي د خپل مسلمان ورور لپاره هغه څه چې د خپل ځان لپاره یې خوښوي.**

**۴- د مسلمان ورور د عزت او آبرو څخه حمایت؛ دا د اسلامي اخوت غوښتنه ده او د یومسلمان پر بل مسلمان حق دی چې یو مسلمان باید د بل مسلمان له عزت او آبرو څخه حمایت وکړي.**

**په حدیث شریف کې راځي: ( مَنْ حَمَى مُؤْمِنًا مِنْ مُنَافِقٍ يَعِيبُهُ بَعَثَ اللَّهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى مَلَكًا يَحْمِي لَحْمَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ نَارِ جَهَنَّمَ) مسند أحمد**

**ترجمه:- څوک چې د یو مؤمن د منافق په مقابل کې حمایت وکړي چې د هغه عیب بیانوي، وبه لیږي الله تبارک وتعالی یوه ملائکه چې ساتي به غوښه د هغه په ورځ د قیامت د جهنم له اور څخه.**

## اسلام د نصیحت دین دی:

**نصیحت نوروته خیر غوښتنه ده چې د دین ټولو نیکو او ښو خویونو ته شاملیږي چي دا کلمه د دین ټول ښه خویونه په ځان کې رانغاړي .**

**د نصیحت په اړه الله جل جلاله فرمایلي دي: (وَالْعَصْرِ, إِنَّ الإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ, إِلاَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ ) العصر: ۱-۳**

**ترجمه:- قسم دلمازیگر په وخت باندې(یا قسم دی په وخت)، بیشکه انسان خامخاپه تاوان کې دی، پرته له هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی او نیک کارونه یېکړي دي او وصیت یې کړی وي یو تر بله په حق باندې او وصیت یې کړی وي یو تربله په صبر باندې.**

**نصیحت د رسولانو او پیغمبرانو سپیڅلې دنده ده. الله تعالی فرمایي: (أُبَلِّغُكُمْ رِسَالاتِ رَبِّي وَأَنَاْ لَكُمْ نَاصِحٌ أَمِينٌ ) الأعراف : ٦٨**

**ترجمه:- رسوم تاسې ته پیغامونه د رب زما او یم زه ستاسو لپاره نصیحت کوونکی امین .**

**همدا راز پیغمبر صلی الله علیه وسلم دنصیحت په اړه فرمایلي دي: ( الدِّينُ النَّصِيحَةُ قلنا : لِمَنْ ؟ قَالَ : لِلهِ وَلِكِتَابِهِ وَلِرَسُولِهِ وَلأَئِمَّةِ الْمُسْلِمِينَ وَعَامَّتِهِمْ) رواه مسلم .**

**ترجمه:- دین نصیحت او خیرغوښتنه ده. مونږ عرض وکړو د چا لپاره؟ نبي علیه السلام وفرمایل: د الله تعالی لپاره، دالله تعالی د کتاب لپاره، د الله تعالی د رسول لپاره او د مسلمانانو د ائمه وو لپاره او دعامو مسلمانانو لپاره.**

**نصیحت کول د الله لپاره د الله د اوامرو پیروي او له نواهیو څخه یې ډډه کول دي. نصیحت د الله کتاب ته دا مفهوم لري چې انسان باید په هغه ایمان ولري او په هغه عمل وکړي او نصیحت پیغمبر ته دا معنا لري چې د نبي علیه السلام د بلنې تصدیق وشي او د هغه د سنتو پیروي ترسره وشي او همدارنگه نصیحت د مسلمانانو د مشرانو لپاره دا دی چې په نیکو کارونو کې د دوی پیروي او له دوی سره مرسته او د دوی له جماعت سره ملتیا وشي او دوی د خیر کارونو ته تشویق شي او نصیحت عامو مسلمانانو ته دا معنا لري؛ چې د هغوی لارښوونه کول دي دنیوي او اخروي مصالحو او ښیگڼو ته او دهغوی څخه هر قسم ضرر دفع کول دي او دهغوی رهنمایي کول دي دنیوي او اخروي منافعو ته او دهغوی سره مرسته کول دي قولا او عملا او دهغوی په عزتونو پرده اچول دي.[مرقاة]**

په یو بل حدیث شریف کې راځي: (عن جرير بن عبد الله - رضي الله عنه - ، قَالَ : بَايَعْتُ رسولَ الله - صلى الله عليه وسلم - عَلَى إقَامِ الصَّلاةِ ، وَإيتَاءِ الزَّكَاةِ ، والنُّصْحِ لِكُلِّ مُسْلِمٍ) . متفق عليه .

ترجمه:- جریر بن عبدالله رضي الله عنه فرمایلي دي: ما بیعت وکړ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د لمانځه پر قائمولو، د زکات په ورکولو او په نصیحت کولو هر مسلمان ته.

د ځینو علماوو نصیحت کول کفایي فرض دی(شرح نووی)

ځوک چې د دې کار وړتیا ولري باید دا فریضه اداء کړي، ترڅو ټولنه د سعادت په لور حرکت وکړي او په ټولنه کې نیکي عامه شي او د ټولنې افراد د نیکیو په لور سوق شي.

په یو بل حدیث شریف کې راځي: عن أبي هريرة رضي الله عنه : أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال :(حَقُّ الْمُسْلِمِ على الْمُسْلِمِ سِتٌّ،قِيلَ: مَا هُنَّ يا رَسُولُ الله ؟قَالَ : إذَا لَقِيتَهُ فَسَلِّم عَلَيْهِ ، إِذَا دَعَاكَ فَأَجِبهُ،وَإِذَا استَنصَحَكَ فَانصَح لَهُ،وَإِذَا عَطَسَ فَحَمِدَالله فَشَمِّتهُ ، وَإِذَا مَرِضَ فَعُدهُ ، وَإِذَا مَاتَ فَاتَّبِعهُ). رواه مسلم

ترجمه:- له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : مسلمان پر مسلمان شپږ حقونه لري ، صحابه وو وویل : ای د الله رسوله ! هغه حقوق کوم دي؟، نبي علیه اسلام و فرمایل:

کله چې ورسره مخامخ شئ سلام پرې واچوه ، کله چې دعوت درته وکړي قبول یې کړه اوکله چې له تا څخه نصیحت(مشوره )وغواړي، هغه ته نصیحت وکړه او کله چې وپرنجیږي د ده د پرنجیدو ځواب ورکړه او که مریض شي پوښتنه یې وکړه او کله چې ومري د جنازې سره یې ملتیا وکړه.

په نصیحت کې د مسلمان سره د نیکیو په کارونو کې او د بدو کارونو څخه په راګرځیدلو کې مرسته کول دي.

## نصیحت کول زیات آدبونه لري چې ځیني یې دا دي :

١. نصیحت کوونکی چې کله غواړی چا ته نصیحت وکړي، باید اخلاص ولري.

٢. نصیحت کوونکی باید د نصیحت پر وخت نرمه طریقه غوره کړي ځکه په حدیث کې راغلي : نرمي په شي کې نه رامنځته کیږي مګر دا چې هغه ته ښایست او سینګار وربښي او نرمي له څه شي څخه نه لرې کیږي مګر هغه بدرنګه کوي.

٣. که مقصود پرې حاصلیدلای شي، پند او نصیحت باید د اشارې په توګه وي او دا له صریح ویلو څخه غوره دی، ځکه هوښیار انسان ته یوه اشاره کافي ده .

٤. نصیحت باید په پټه توګه وشي؛ ځکه ځینو نیکانو ویلی دي : څوک چې خپل ورور ته په پټه نصیحت کوی، نو ده د نصیحت حق اداء کړی او څوک چې چا ته د خلکو په مخ کې نصیحت کوي هغه ته یې د نصیحت په ځای زجر او رټنه ورکړه .

٥. په نصیحت کې باید د غوره طریقې پیروي وشي ، ترڅو یې نصیحت اغیزه وکړي او مخاطب نصیحت ومني او په هغه عمل وکړي .

٦. کامل او بشپړ نصیحت دا دی چې داعي او بلونکی باید لومړی په خپله وینا په خپله عمل وکړي ځکه دا کار نصیحت منلو او بلنې ته ډیر نږدې او اغیزناک دی . لنډه دا چې باید موږهریو ځان اصلاح کړو او مسلمان ورورته له نصیحت کولو ځان ونه سپموو ځکه ډیر ځله کیدای شي نصیحت ده ته د خلاصون او بریا لامل وګرځي .

**تحمل :**

**همدا راز دا طبيعي خبره ده چې څوک د مسلمانانو سره اخوت پالي او يا مسلمانانو ته نصيحت کوي په دې لار کې به د ستونزو سره مخ کيږي ، په کار ده چې د ستونزو پر وخت د تحمل څخه کار واخيستل شي او د ناخوالو په مقابل کې د صبر او تحمل څخه کار واخيستل شي.**

**د العصر په سورت کې همدې خبرې ته اشاره شوې ده.**

**د همدې امله په صحابه وو کې به چې دوه کسان يو له بل سره مخامخ شول چې کله به يو له بل څخه جدا کيدل يو بل ته به يې د العصر د سورت تلقين کولو . هغوی به يو بل ته په حق نصيحت کولو ، هغوی به يو بل ته په ايمان او صبر باندې تلقين کولو او پر داسې حال به يو له بل څخه جدا کيدل چې دا الهي تعهد به يې تازه کړی ؤ.**

**همدا راز د دنيا ژوند د مشقتونو او تکليفونو څخه ډک دی کامياب مسلمان هغه دی چې د دنيوي ربړو او مشقتونو په مقابل کې متحمل اوسي او نورو ته هم په تحمل نصيحت وکړي.**

**دايمان تقاضا داده چې د مسلمان ورور څخه داسې څه ووينې او يا يې واوري چې زړه دې ورباندې آروزده شي بايد د تحمل څخه کار واخلي.**

**امام محمد بن سيرين او فضيل بن عياض رحمه الله به ويل: (احتمل لأخيك الى سبعين زلة) [روضة العقلاء؛ لابن حبان]**

**ترجمه:- تحمل کړه د خپل مسلمان ورور اويا لغزشونه.**

**پيغمبر عليه السلام به د ژوند د ټولو حالاتو په مقابل کې خپل صحابه په تحمل او صبر باندې روزل.**

**د ځينو پوهانو وينا ده چې ( شَرَفُ النَّفْسِ أَنْ تَحْمِلَ الْمَكَارِهَ كَمَا تَحْمِلُ الْمَكَارِمَ). [أدب الدنيا والدين]**

**ترجمه:- د نفس شرف دادی چې تحمل کړی سختي لکه څرنګه چې تحمل کوي مکارم.**

**د ټولنې هر فرد بايد د ټولنې د اصلاح لپاره کوښښ وکړي او په دې لاره کې مشکلات تحمل کړي.**